ټکونه

# جنریشن ګیپ

## ټاکو

ریحام خان بي بي وائي چې د عمران خان بلیک بیري خوښ ؤ او زما آئي فون(I.Phone) او دغه زمونږ ترمېنځه د اختلاف غټه وجه وه. زما قطعاً د محترم عمران خان او محترمې ریحام خان په ذاتي ژوند د څه قسمه تبصرې کولو مقصد نه دے. چې کله دوي دواړو خپلو کښې د ژوند د ملګرتیا فېصله اوکړه نو زه ډېر خوشحاله شوم ځکه چې دا د دواړو کورودانې وه او زما هغه خلق ډېر خوښ وي څوک چې کورونه جوړوی او ودانوی او هغه خلق مې ډېر بدې شي څوک چې کورونه ورانوي که هغه خپل کور وي او که پردي کورونه. کله چې دا دواړه د یو بل نه جدا شول نو ما سره بغېر د افسوس نه بل هیڅ هم نه وو. خو دواړه مې په دې وجه ځکه بدې نه شي چې شاید دا دواړه دومره کم عقل نه دي چې ځان له به ئې په خپله کور وران کړے وي. خېر هر څه چې دي ریحام خان چې کومه د عمران خان د بلیک بیري او د خپل آئي فون (I.Phone) خبره کړې ده زما موضوع صرف دا ده.

ما چې کله صوفي جان ته د ریحام خان دا خبره مخې ته کېښوده چې د عمران خان بلیک بیري خوښ دے نو صوفي جان اک دم په کټ کښې کېناستو چې ګورګورې یادوې. ما ور ته ووئیل چې مره دا ګورګورې پکښې د کوم ځائې نه راغلې. هغه ووئیل چې بلیک بیري څه ته وائي خو ګورګورو ته به وائي کنه او د عمران خان به ګورګورې خوښې وي نو دې باندې ریحام بي بي ولې خفه وه. عمران خان څه ښځه خو نه ده چې په ګورګورو به ئې شونډې تورې شي نو بد به ښکاري.

زه حیران شوم چې زۀ څه وایم او دا ډول مې څه وائي. ما ور ته په زور زیر ووئیل چې بلیک بیري ګورګورو ته نه وائي دا د سیل (Cell) فون یو قسم هم دے او د یوې ټیلي مواصلاتي کمپنۍ هم نوم دے. صوفي جان برق په خندا شو او وې فرمائیل پته ده را ته پوې شوم. ما وې چې کیدے شي انګریزان ګورګورو ته بلیک بیري وائي. او د چا چې انګریزانو سره راشه درشه وي هغوي هم دغسې خبرې کوي.

لکه ځیني انګریز پرسته چې ساګو ته ایټنګ ګراس او د پلاسټکو تیلۍ ته شاپر وائي. خېر صوفي جان خبره بل اړخ ته د بوتلو کوشش اوکړو خو ما زر لارې ته راوستو او ور ته مې ووئیل چې دا زما موضوع نۀ ده دا یو لفظ نه دے په زرګونو الفاظ دي چې زمونږ خلقو په خپله جوړ کړي دي. دغسې بې شمیره الفاظ اردو پورې

هـم ترړلـے شـوي دي. غـريبـانـان چې په خپله ژبه شـرمېږي او پـردۍ ژبې وائي نه نو د ځان نه خو به ټـکـي جوړوي. ګړېږ نه ګړبړيشن لفظ جوړول هم څـه نـوے کار نه دے. خو د ريحام بي بي مقصد دا نـه ؤ. د هـغې د عـمـران خان د بليک بيري او پـه خپله ئې د آئي فون (I.phone)خوښولو سره هم څه کار نه ؤ د هغې مقصد څه بل ؤ دا مسئله صرف د دې دوه کســانـو نۀ ده بـلـکې دا مسئلـه د مودو راسې زمـونږ د امـروزه معاشرتي ژوند سره ترړلې ده زمـونږ اقتـصـاد او سيـاسـت هم د دې اهمې مسئلې نه آزاد نه دے.

بـلـيک بيـري يـو داسې کـمپيـوټـرايـزډ موبائيل فون دے چې زوړ دے او د زيات عمر خلق ئې خوښوي او د زيات عمر خلق لکه ما چې واخلې يا صوفي جان چې واخلې پرې پوهيږي يعنې مونږ ئې پـه اپريشن تر څۀ حده پوهېږو. اوس نوي نوي مـوبـائيـل فـون سيټـونـه راوتي دي د نوي نسل پېغلې او ځلمي په هغې پوهيږي او هغه خوښوي. د نـن نـه لس پينځلس کاله مخکښې بليک بيري يـو مـاډرن او ګڼ کـاره مـوبـائيل فون سيټ ؤ چې اخستـل ئې د هـر چـا د وس کـار نـه ؤ د نوي نسل خـلق د دې په ځائې اوس نوي نوي راغلي سيټونه خـوښـوي او اکثـر د پـلار او ځـوي، مور او لور او کشر او مشر په دې اختلاف وي.

دغـه شـان د جـامـو سټـائلونه، د څپلو او بـوټانو قسمونه، د ويښتو د جوړولو سټائيلونه او داسې نـور ډېر څيزونه د زوړ او نوي نسـل د خلقو د اختـلافـاتـو سبـب وي. ځيـنې پلاران په ځامنو د خپـل وخـت د څيـزونـو په استعمالولو باندې زور اچـوي او ځامن د پلارانو دې خبرې منلو ته تيار نه وي. حتـی چې پـه خوراک څښاک هم د کور دننه د مشـرانـو او کشـرانو ترمېنځه اختلاف وي. خو دا اختـلافـات د ښځې او خاوند ترمېنځه ځکه نه وي او يـا کم وي چې دوي اکثر د يو عمر او يوې زمانې وي. د دوي خـوښه او ناخوښه يوه وي. خو چې کله د ښځې او خاوند عمرونو کښې د لسو دولسو کالو نـه زيـات فرق راشي نو د دوي اختلاف هم دغسې وي لکه څنګه چې د مور پلار د اولاد سره وي او يا دغه شان د نوي او زوړ نسل ترمېنځه وي.

سيـاسـت هم د دې نـه آزاد نـه دے. زاړه سيـاسـتـدانان په زړو ټالونو زانګي او د نوي نسل خـلـق د دوي پـه خبرو غوږونه نه ګروي او چې کله انتـخـابـي نتيجې مخې ته راشي نو بيا ځانونه نه ګـرموي خو نوے نسل ذمه وار ګڼي. دوي هم هغه بـلـيک بيـري د ټولو نه ماډرن مضبوط او ګڼ کاره مـوبائيل فون ګڼي او دغه ئې په لاسو کښې نيولے وي خـو د مارکيټ نه نه وي خبر چې د دې په ځائې په سلګونو نوي نوي موبائيل سيټونه راغلي دي. دې تـه وائي په انګريزۍ کښې جنريشن ګيپ. په سيـاسـتـدانـانـو کښې د دې ګيپ احسـاس خـان عبـدالـولـي خان ته د يو دور انديش قامي مشر په حيـث دومـره زيـات ؤ چې بيـا بيا به ئې وئيل چې اوس بـايـد چې زمـا ځائې د نوي نسل څوک ځوان اونيسي.